مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ». "څوک چې له ماسپښين نه مخکې څلور رکعته او له ماسپښين نه وروسته څلور رکعته لمانځه ته پاملرنه وکړي، الله تعالى به يې په اور حرام کړي

له ام حبيبه رضي الله عنها څخه روايت دى چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمن ده، وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ». "څوک چې له ماسپښين نه مخکې څلور رکعته او له ماسپښين نه وروسته څلور رکعته لمانځه ته پاملرنه وکړي، الله تعالى به يې په اور حرام کړي".

[صحيح دى] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه چاته زيرى وركوي چې د ماسپښين د لمانځه نه مخکې څلور رکعته، او څلور رکعته وروسته نفل په دوامداره توګه وکړي نو الله تعالى به يې په اور حرام کړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/11251